# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد		بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم		از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com		www.afgazad.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
| --- | --- |



محمد هارون خپل شعشعي


اول جون ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۵۱

### ۱۱۳- سَماع او وَجْد:

الف) سماع :

سماع ( د سين په زْوَر ) په لغت كي اروېدلو، خواره اواز، غِنأ، نغمي او ترانې ته وايي[۱]، چي مورږ يې په ننني عامه او مروجه اصطلاح موسيقي بولو. دغه راز، ځينو د سماع عربي ټکی د نڅا، خوشالی، مجازي وجد او هغه اواز په مانا هم راوړی دئ، چي د اروېدونکي حالت واړيي(واړوي)[۲] .

سماع او وجد له هغو عرفاني مسألو څخه دي، چي نه يوازي يې د شريعت او معرفت د پلويانو تر منځ ژورو تضادو، مخالفتو او جنجالوته لمن وهلي ده، بلكي د تصوف او عرفان په نړۍ كي دننه يې هم د بېلابېلو او حتا متضادو نظريو و را منځ ته كېدو ته لار پرانيستي ده . پټه دي نه يي(وي)، چي سماع او غنأ د فقهي او شرعي علومو له نظره، په عمومي توګه بد او ناوړه كار ګڼل سوئ دئ . د اسلام د سپېڅلي دين د سنت او جماعت په څلورو فقهي او فكري مكتبو( حنفي، شافعي، مالكي او حنبلي) كي د ځينو توپيرونو په لرلو سره د سماع دكراهت، بدوالي، بدعت او آن حرمت تر پولي خبري سوي دي . د شيعه مذهب په بېلابيلو ډلوكي هم، په دې اړه بېلابېلي نظريي وړاندي سوي دي . په دې مانا، چي زياترو متشرع عالمانو يې سماع او غنأ له لويه سره حرامه ګڼلي ده، ځينوهغه ناوړه يا مکروه بللي ده؛ او ځينو نورو يې د جواز او اباحت په پلوي فتوا ور كړې ده .

په ديني او مذهبي كړيبوكي د سماع د بدوالي، كراهت او حرمت د اثبات دپاره په ځينو قرآني آيتواو نبوي حديثو استناد كيږي . ځينو مذهبي عالمانو، سماع د لهو و لعب، فسق و فساد، زور و باطل، صوت الشيطان، صوت الاحمق او داسي نورو په نومو ياده كړې ده، چي څوک له قرآني ذكر څخه ليري ساتي . دلته د دغو نظريو او دلايلو له تفصيل څخه ډډه كوو؛ ځكه دا اوږده بحثونه مو د فقي او شرعي علومو و پراخي دونيا ته

بيايي، چي څېړنه او شننه يي د دې کوچنی عرفاني رسالي تر حوصلي او روحيي دباندي ده ( په دې اړه د نورو مالوماتو دپاره وګورئ : « سماع در تصوف » ۴۰- ۵۵ او د « رسالهٔ مانع سرود » په نامه هغه پښتو تحقيقي ليکنه، چي د محمد رفيق « روضة النعيم » د ( ۲۸- ۳۹) مخو پر عمودي حاشيو يا لمنو کښل سوې ده . دا کتاب، په ۱۳۰۵ هـ . ق .کال د سيداحمد او ګل احمد په سپارښتنه، د لاهور په مُصطفايي مطبعه کي چاپ سوئ دئ) .

له سماع او وجد سره د ديني او مذهبي حلقو پر راز راز مخالفتو او انتقادوسربېره، **په دغو حالتو کي د موزونو ټکو ترنُم، د شريعت او طريقت د پلويانو له خوا په ګډه منل سوئ دئ :**

- د حاجيانو ترانه، چي د کعبې شريفي صفت بيانيي .
- هغه څه، چي غازيان يي په جنګ او غزا کي د خلګو د هڅوني دپاره وايي .
- د وياړني هغه شعرونه او ټکي، چي جنګيالي يې د زړورتيا او اتلوالی دپاره وايي .
- د واده، وليمي، عقيقي او داسي نورو خوښيو پر مهال سماع[۳].

په تصوفي او عرفاني ډکتورينو کي هم د سماع او وجد په باب بېلابېلي رايي او نظريي تر سترګو کيږي . د اسلامي تصوف او عرفان مخکښ او ځلانده ستوري - شيخ فريدالدين عطار نيشابوري ( ۵۴۰ - ۶۱۸ هـ ق) په خپل مشهور اثر « تذکرة الاوليأ » کي د سماع په باب د ځينو عرفاني مخکښانو نظريي راوړي دي، چي له هغو څخه ځيني په دې ډول دي :

مصري ذوالنون ( په ۲۴۵ هـ ق کي مړ ) ويلي دي : سماع د خدای پيغام دئ، چي زړونه د هغه و لور ته پاربي . که څوک په حق سره سماع واروي، نو حق ته لار مومي؛ او که يي په نفس سره واروي، په کوپر ( کُفر) او الحاد کي لويږي . ښه اواز، انسان د خدای ولوري ته هڅيي ؛ او په دې ډول د حقيقت موندني د يوې وسيلي په توګه کار کيي . بل وتلي عرفاني مخکښ - شبلي قدس الله روحه ( ۲۴۷هـ ق/ ۸۶۱ ع – ۳۳۴هـ ق/ ۹۴۶ع) د سماع په اړه ويلي دي : ظاهر يي فتنه او باطن يي عبرت دئ . د سری سقطی ( په ۲۵۷ هـ ق کي مړ) له نظره ، په سماع کي د مينانو زړونه خوښي مومي؛ د توبه کوونکو زړونه بېره احساسيي؛ او د عاشقانو زړونه اور اخلي . سماع پر ښېرازه مځکه د هغه اورښت په څېر ده، چي له برکته يي شين والی او سمسورتيا را توکيږي ؛ په پاکو زړو کي هم د سماع په رسېدو سره، دېري پټي ګټي رابرسېره کيږي . لکه څنګه، چي کوچنيان د ښه اواز په اورېدو سره ارامي او سکون مومي، سماع هم نازکو او ناروغو زړو ته شفأ او جوړتيا ور بخښي. سماع د انسان پر هر غړي بېله اغېزه کيي . کله يي مسېدا اوکله يي ژړا ته اړباسي؛ کله يي لاس ښورولو، کله يي نڅا او کله يي هم بې سدې او بې هوښی ته بيايي . ځينو ويلي دي، چي سماع د حق تعالی له خوا، د انسان په زړه کي د اور لګول دي . البته، دا اور يوازي د هغه چا په وجود کي بليږي، چي زړه يي په مينه؛ او نَفْس يي په مجاهده کي سوي يي(وي)[۴] . ځينو سماع د حقيقتود خزاني کيلي؛ د اروا خواړه او د عرفاني سالکانو د زړه دوا ګڼلي ده . عرفاني سالکان باور لري، چي د رباب زړه وړونکي ترانه او د شپېلی اروا بخښوونکی اواز د عارف روح له هري بلي خوا د حق تعالی لور ته ور تولييي[۵].

د زړه خاوندانو ته، چي د موسا ( ع ) په څېر اسرار اروېدونکي غوږونه لري، له هر شي څخه د خدای تعالی ږغ پورته کيږي . داسي کسان له هري ذرې څخه اسماني اواز اروي؛ او د حال، شوق، جذبې او وجد احساس کيي . دا ږغ که د مؤذن اواز يي، که د قرآن تلاوت يا د لاروي د تېرېدو ږغ يا د چنګ او رباب ږغ يا د باد او سېلی د سرهار ږغ يا د بېلابېلو ژوو ږغونه يا د اوبو د شورهار ږغ يا د چمن د مرغانو نغمي .

عرفاني سالکان باور لري، چي سماع يا موسيقي روح ته سپېڅلتيا او څلا ور بخښي؛ او د ريښتيني سالک په زړه کي د ميني او عشق څپي پياوړې کيي؛ خو په دې باب اساسي خبره داده، چي سماع بايد د هغه چا له خوا وارورېدل سي، چي په سر کي د حق تعالى مينه او ولوله و لري . په بله ژبه، سماع پر هغه چا حرامه ده، چي د دې صفت خاوند نه يي[۶].

د تصوفي او عرفاني افکارو مؤرخين په دې باور دي، چي د څلرمي او پينځمي هجري پېړيو عارف - ابو سعيدابوالخير( ۳۵۷ – ۴۴۰ هـ ق) د هغو صوفيانو له ډلي څخه دئ، چي د سماع غونډي يې په خانقاوو کي باب کړي دي[۷] .

په پير هرات يا خواجه عبدالله انصاري هروي مشهور - شېخ الاسلام ابو اسماعيل بن محمد( ۳۹۶هـ ق/ ۱۰۰۶ع – ۴۸۱هـ ق/ ۱۰۸۸ع) په خپله « محبت نامه » کي د وجد په اړه کاږي : « وجد د وصال او فراق تر عالم وروسته دئ . و جد د عاشقانو د وينتوب عالَم دئ . وجد د دوستانو د زړه بن دئ . وجد د عاشقانو د اروا ريحان دئ . وجد د ځان بايللو سَوَب ( سبب)؛ او د کور او کهول له منځه وړل دي[۸] . »

شېخ شهاب الدين ابو حفص عمر بن محمد سهروردي ( ۵۳۹ – ۶۳۲ هـ ق) په خپل مشهور عرفاني اثر « عوارف المعارف » کي يادونه کيي، چي د سماع په غونډه کي ګډون بايد له پاک نيت، سپېڅلي زړه او پت سره ملګرى يي . په داسي غونډو کي بايد له شوخى او نوس پالني څخه په کلکه ډډه وسي[۹] . په « عوارف المعارف » کي د رسول الله ( ص ) د وجد خبره هم سوې ده[۱۰] .

شېخ ابوالقاسم جنيد ابن محمد جُنيدبغدادي ( په ۲۹۷ يا ۲۹۸ هـ ق کي مړ )، شېخ محى الدين ابوحامد عبدالقادر جيلاني ( ۴۷۱ هـ ق / ۱۰۷۸ع - ۵۶۱ هـ ق / ۱۱۶۶ع)، شېخ اکبر محى الدين ابن اعربي ( ۵۶۰ – ۶۳۸ هـ ق)، خواجه معين الدين چشتي ( په ۶۶۳هـ ق/ ۱۲۴۳مع کي د هند په اجمير کي مړ)، شېخ فريدالدين شکرګنج، شېخ نظام الدين الاولياْ دهلوي ( ۶۳۸هـ ق/ ۱۲۳۸ع – ۷۲۵هـ ق/ ۱۳۲۵ع ) او ځيني نور له هغو لويو تصوفي او عرفاني مشرانو څخه دي، چي سماع او وجد يې د روحاني تزکيي او الهي قرب د يوې وسيلي په توګه خوښ کړي دي[۱۱] .

وتلى او منلى عرفاني لاربنود - شېخ ابوالحسن علي ابن عثمان ابن علي هجويري ( په ۴۶۵هـ ق کي مړ) په خپل مشهور عرفاني اثر « کشف المحجوب » کي د سماع د ادابو او دودو په باره کي وايي : « د سماع يو ادب دادئ، چي تر څو په خپله رانسي بايد ويې نه کړئ؛ ياني سماع بايد هيڅکله د خوى او عادت له مخي و نسي[۱۲] . »

په امام غزالي مشهور، مخکښ متشرع صوفي - حجة الاسلام ابوحامد محمد بن محمدبن احمد ( ۴۵۶ هـ ق/ ۱۰۵۸ع - ۵۰۵ هـ ق/ ۱۱۱۱ع) په خپلو مشهورو آثارو « کيمياى سعادت » او « احياء العلوم » کي د سماع په اړه خورا ارزښتناکي او په زړه پوري خبري کړي دي . دى وايي : سماع ساز او اواز دئ، که د کار او عادت له مخي يي حرام دئ . سماع، هغه وخت روا ده، چي ښکلى او ښايسته اواز يوازي د حق تعالى د ميني او جمال پېژندني په مقصد ويل سوئ يي. يوازي دغه راز سماع، په انسان کي روحاني خوښي او وجد را منځ ته کيي . امام غزالي زياتيي : سماع ، وجد او جامي څيرل هغه مهال روا دي، چي له هر ډول حرمته ژغورلي يي؛ د مثال په توګه په سماع کي بايد ښکنځل، کږل، دين ته بد رد ويل يا د روافضو هغه شعرونه ونه ويل سي، چي د اصحابو غندنه او بدګويي پکښي سوې يي . امام غزالي، په سماع کي دغو ټکو ته پاملرنه ضروري ګڼي :

- له ښځي يا داسي هلک څخه سماع حرامه ده، چي شهوت و پاريي .

- سماع باید له ځینو آلاتو لکه رباب، چنګ او بربط سره نه يي؛ خو د ډول، دريي او سورنا په څېر آلې حرامي نه دي .

- په سماع کي باید داسي ترانې او شعرونه ونه ویل سي، چي د چا ښکنځنه، غندنه او بدوینه پکښي راغلې سوې يي .

- د سماع اروېدونکئ باید ځوان نه يي، چي د سماع له امله په شهوت کي ډوب سي؛ د ويښتانو او نور خال و خط په اروېدو سره لار اوګودر ورک کي .

- د عوامو سماع د خوښی او ساتيري په ډول روا ده؛ خوپه دې شرط چي تل تر تله نه يي؛ د کار او دندې بڼه غوره نه کړي[١٣] .

امام غزالي، په خپل مشهور اثر « کیمیای سعادت » کي د سماع د ادابو په اړه وايي، چي په سماع کي باید د حضرت جنید له وینا سره سم، درو ټکو یا مسألو ( زمان، مکان او اخوان ) ته جدي پاملرنه وسي . زمان په دې مانا، چي سماع باید هیڅکله د زړه د بوختیا، لمانځه، خوراک او داسي نورو پر مهال نه يي . مکان په دې مانا، چي سماع باید په بې خونده او تاریکو ځایو یا د ظالم په کور کي نه يي . د اخوان مانا داده، چي د سماع په غونډه کي ټول حاضر کسان باید د سماع څښتنان يي . یاني دسماع په روحاني او عرفاني مفهوم باید پوه يي . په دې ډول، د امام غزالي د عرفاني نړۍ لید له مخي، هغه سماع بې ګټي ده، چي په غونډه کي يي، د دونيا او تکلف څښتنانو، متکبر او منکر سندرغاړي، بې خبره کسانو، د ښځو یا ځوانانو داسي ډلي برخه اخیستي يي، چي د يو بل په باره کي ناروا او ناسم سوچونه کيي . امام غزالي، د سماع په غونډه کي، د ښځو دګډون په اړه زياتيي : « داسي سماع باید ونسي، چي هلته پر ښځو سربېره، غافلو ځوانانو هم برخه اخیستي يي؛ او يو بل ته د شهوت په سترګه وګوري . دا کار د فسق او فساد منشأ ده . د سماع څښتنان باید، د سماع پر مهال سرونه کښته واچيي؛ او يو بل ته و نه ګوري؛ لاس او پښي و نه ښوريي؛ په تکلف سره هیڅ حرکت ونه کي؛ لکه څنګه چي په لمانځه کي ناست يي، د سماع په غونډه کي هم همغسي کښېني؛ او ټول زړه و حق تعالی ته څېرمه کړي[١۴]. »

امام غزالي، په خپل بل نامتو اثر « احیاء العلوم » کي لیکي، چي سماع اروېدونکی باید له ناستي ولاړ نسي؛ او په ژړا اواز پورته نه کړي؛ خو که يي د ځان واک په لاس کي نه ؤ، ياني بې ريا او بې ارادې يي نڅا او ګډا ته لاس واچاوه؛ او ځان يي نابېره د ژړا په حال کي ولیدئ، بیا نو دا کار روا دئ؛ ځکه چي ژړا له غم او خواشینی څخه پیدا کیږي؛ او نڅا د خوښی او خوشالی څرګندوی ده . په داسي حالاتو کي باید نور اروېدونکي له نڅا څخه پرهيز وکي؛ او د هغه چا حالت ګډوډ نه کړي، چي د مینې او ولولو له جوشه، په وجد او نڅا اخته يي .

د اسلامي تصوف او عرفان تلپاته ستوری - مولاناجلال الدين بلخي رومي (۶۰۴ - ۶۷۲هـ ق ) له هغو وتلو او منلو عرفاني مفکرانو څخه دئ، چي د سما ع او وجد په ستاینه يي خورا په زړه پوری خبري کړي دي . د مولانا په عرفاني ډکتورینوکي د رباب ږغ د جنت د دروازې اواز بلل سوئ دئ[١۵] . مولانا بلخي رومي ، په خپل مشهور عرفاني اثر « مثنوی معنوی » کي د شپېلی زړه وړونکی اواز، په حقیقت کي د مینې له اوره بولي، نه د باد له اغېزې؛ او له دې اوره بې برخي زړه ته د نابودیغوښتنه کيي :

« آتشست این بانگ نای و نیست باد
هرکه این آتش ندارد نیست بـاد
آتش عشقست کاندرنی فتــاد

جوشش عشقست کاندر می فتـاد۱۶»

مولانا، د میني په بې سدۍ کي د نڅا او ګډا فلسفه داسي بیانیي:

« جانهای بسته اندر آب و گـل

چون رهند از آب و گلهـا شــاد دل

در هوای عشق حق رقصـان شود

همچو قرص بدر بی نقصان شــود

جسمشان در رقص و جانها خود مپرس

و انکه گیرد جان از آنها خود مپرس۱۷ »

مولانا د« مثنوی معنوی » په څلرم ټوک کي د ابراهیم ادهم د مهاجرت په باب وایي :

« لیک بد مقصودش از بانگ ربـاب

همچو مشتاقان خیال آن خطـاب

ناله سرنا و تهـدید دهـل

چیزکی ماند بدان نــاقورکـل

پس حکیمان گفته انداین لحنهــا

از دوار چرخ بــگرفتیم مـا

بانگ گردشهای چرخ است اینکه خلق

می سرایندش به طنبور وحــلق

ما همه اجزای آدم بـــوده ایم

در بهشت آن لحنها بشنوده ایـم . . .

مولانا، سماع د عاشقانو خواږه او خوراک ګڼي؛ او ښکلو ږغو ته د هغه ځواک په شان ګوري، چي د میني او عشق اور تازه کیي:

« ... پس غذای عاشقان آمد سمـاع

که در او باشد خیال اجتماع

قوتی گیرد خیالات ضمیر

بلکه صورت گردد از بانگ صـفیر

آتش عشق از نواها گشت تیــز

آن چنانکه آتش آن جو ز ریـــــــــز۱۸ »

شیخ سعدي علیه رحمه ( ۶۰۶ هـ ق ته نیژدې زیږېدلی؛ او د ۶۹۱ - ۶۹۵ هـ ق ترمنځ مړ) جهان داسي سمندر بولي، چي مینه او مستي ځپې پکښي وهي . دی هم د ځینو نورو عرفاني اندېشمندانو په څېر، په سماع او غنأ کي د اروېدونکي (سامع) پر فکري او عرفاني ځرنګوالي ډېر ټینګار کیي . د ده په نظر سماع داسي مستي او جذبه ده، چي د حال څښتن د جبروت او لاهوت واسمانو ته پورته کیي؛ خو د بې حاله انسان په زړه کي د نفس او هوا ښامار را ژوندی کیي . له دې امله د سماع او وجد اباحت د اروېدونکي له حاله سره تړي :

« نگویم سماع ای برادر که چـیست

مگر مستمع را بدانم که کیست

گر از برج معنی برد طـیر او
فرشته فرو ماند از سیـــر او
وگر مرد لهو است و بــــــازی و لاغ
قویتر شود دیوش اندر دمــاغ
پریشان شود گل به بـــاد سحر
نه هیزم که نشکافدش جز تــبر
جهان پُر سماع است و مستی و شور
ولیکن چه بیند در آئینه کـور
نبینی شتر بر سماع عـرب
که چونش به رقص اندر آرد طــــرب
شتر را چو شور و طـرب در سر است
اگر آدمی را نبـاشد خر است۱۹»

خوږ ژبی شاعر او مفکر عارف - شېخ سعدی ( ر ح ) د حق تعالی په مینه کي د بي هوښه مجذوبانو د وجد او نڅا فلسفه داسي بيانيي :

« ندانی که شوریده حالان مست
چرا بر فشانـند در رقص دست
گشــاید دری بر دل از واردات
فشانند سر دست بر کائنـات
حلالش بود رقص بر یـاد دوست
که هر آستینش جانی دروست ۲۰ »

د ځينو تصوفي او عرفاني شېخانو په عقيده، د سماع په غونډو کي ګډون، يوازي د رسېدلي يا کامل عارف کار دئ؛ ځکه نو د عرفاني طريقت نوو سالکانو ته په دي ډول مجلسو کي برخه اخيستنه، ګټوره او مناسبه نه ګڼل کيږي . ځينو نورو عرفاني مشرانو بيا هر چاته د سماع د جواز حُکم کړئ دئ؛ خو د عامو، خاصو او خاص الخاصو کسانو دپاره يي د سماع د جلا جلا ډولواو بڼو په اړه خبري کړي دي . يو شمېر نورو د نسبتاً ورته نظر په لرلو سره، د طبيعي سماع، هوايي سماع، شهواني سماع او بدعتي سماع څلور ډولونه بيان کړي دي۲۱ .

نامتو عرفاني مفکر - شېخ عزيزالدين بن محمد نسفي(۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق ) د مناسبو خوږو او معتدلي هوا تر څنګ، د ښه اواز اورېدل، د هغو درويشانو د درملني او علاج يوه لار بولي،چي د پرله پسي رياضتو او مجاهدو په وجه کمزوري سوي يي . شېخ نسفي هم د ځينو عرفاني مخکښانو له عقيدو او نظريو سره سم، سماع د هر چا له شان سره مناسب کار نه ګڼي . هغه، په خپل لوړ عرفاني اثر « انسان الکامل » کي ليکي : « داچي عام و خاص ټول په ګډه سماع کيي، دا نه د درويشانو کار دئ او نه د مشايخو. درويشان او عارفان بايد داسي سماع ته ولاړ نسي . شېخ نسفي هم د امام غزالي په شان باور لري، چي درويشان بايد په سماع کي د زمان، مکان او اخوان شرطونه په پام کي وساتي، چي په دي توګه کار د مشايخو له دودو او دستورو سره سم وسي۲۲.
. . »

عرفاني مخکښانو د سپېڅلي قرآن د فاطر د سوري په لومړي آيت ( ۳۵ : ۱ ) کي د « يزيد فی الخلق ما يشاء » مقصد ښه اواز تفسير کړئ دئ . د هغوی د دلايلو له مخې، په عظيم الشان قرآن کي د الله تعالی دا خبره، چي په ږغوکي د خره ږغ تر ټولو بد دئ، هم په واقعيت کي د ښه او ښايسته اواز پر ستاينه دلالت کيي . دغه راز، په يوه نبوي حديث کي د الله تعالی له خوا د ښه اواز د پيداکولو او ستايني په اړه ، داسي راغلي دي : « مابعث الله نبيا الاحسن الصوت » د همدې مسألي په باب، په يوه بل نبوي حديث کي راغلي دي، چي رسول اکرم ( ص) د داود ( ع) ښکلي اواز ته په پاملرني سره، د ابی موسا اشعري په ستاينه کي وويل : « ده ته يي د د داود ( ع) د کورنی ښه اواز ورکړئ دئ[۲۳] . »

د سماع او غنأ پلويانو پرځينو قرآني آيتو( چي يادونه او تفسير يي د دې لندي ليکني اوږدېرني تر حوصلي وتلئ دئ) سربېره داسي نبوي احاديثوته هم اشاره کړې ده، چي د هغو له مخې، غنأ د اسلامي نصوصو له نظره لهو و لعب کار نه ګڼل کيږي؛ د مثال په توګه د صحاحو مؤلفانو( امام بخاري او امام مسلم) له بي بي عايشي ( رضی الله عنها) څخه روايت کړئ دئ، چي يوه ورځ حبشو( د اوسنی ايتوپيا خلګو) د ماجت/ جومات په غولي يا انګړ کي لوبي کولي، رسول الله ( ص) بي بي عايشي ته و ويل، چي غواړې و يي ګورې؟ ما ورته و ويل : هو . هغه مبارک پر دروازه و درېدئ، لاس يي وړاندي کړ؛ ما خپله زنه پر کښېښوله او دونه ننداره مي وکړه، چي په خپله خوښه او قانع سوم[۲۴] . له دې مبارک حديث څخه دا ټکي په ډاګه کيږي :

- لوبي، ساتيری؛ او د هغو ننداره که کله کله يي حرام نه دي؛ ځکه پيغمبر (ص) کله بي بي عايشه ( رضی الله عنها) و حرام کار ته ور بلله .
- د حبشو په لوبوکي نڅاوي او تراني وې .
- هغوی دا لوبي د ماجت/ جومات په غولي کي کولي .
- پيغمر(ص)په خپله بي بي عايشي ( رضی الله عنها) ته دلوبو د ننداري بلنه ورکړه .
- په داسي حال کي، چي رسول الله ( ص) د ننداري او ساتيري سرى نه ؤ؛ خو په خپله يي له بي بي عايشي سره يو ځای اوږد مهال د لوبو ننداره وکړه . له دې ټولو دلايلو څخه دا نتيجه تر لاسه کيږي، چي د ښځو او کوچنيانو د خوښی دپاره، داسي ننداري د نېکو خويو او اخلاقو مانا لري[۲۵].

له دې ټولو دلايلو او قراينو سره سره ، د اسلامي تصوف او عرفان ځينو مشرانو، په خپلو عرفاني اصولو او سير و سلوک کي د سماع او وجد له ملاتړ څخه ډډه کړې ده . وتلی عرفاني لارښود - شيخ هجويري ( په ۴۶۵ هـ ق کي مړ)په خپل نامتو اثر « کشف المحجوب » کي په دې اړه داسي ليکي : « په شريعت او طريقت کي نڅا هيڅ اصل او بنسټ نه لري[۲۶] . » د ده له نظره، وجد او نڅا له شرعي او عقلي اړخه نا وړه کار دئ . ناپوه کسان دا کار کيي ؛ خو نېک خلګ هيڅکله داسي کار ته زړه نه ښه کيي .

د نقشبندي طريقي لارښود- خواجه بهاء الدين نقشبندي بخاري ( ۷۱۸- ۷۹۱ هـ ق ) له هغو نامتو صوفي لارښونکو څخه دئ، چي په خپل عرفاني طريقت کي له سماع او وجد سره هوکړه نه لري . هغه وايي : « نه دا کارکوم؛ او نه له هغه مُنکر يم[۲۷] . » ځينو نورو صوفيانو او عارفانو د سماع او خوښی په غونډو کي د قرآن مجيد د آيتو د تلاوت يادونه کړې ده . ددې عرفاني ډلي په نظر، بايد سالکان دقرآني کلام په تلاوت سره د زړه مينه ماته کي، نه د شعرو او ترانو په ويلو يا لږ تر لږه د هغو شعرو او ترانو په ويلو سره، چي په هغو کي د ديني مسألو، جنت او دوږخ يادونه او د الهي ذکرونو او اولياوو ويناوي نه يي راغلي .

هغه دليلونه، چي  له مخي يي د عظيم الشان قرآن پرځاى په سندرو او ترانو سماع كول روا ګڼل كيږي؛ او د سماع غونډي ته د قاري پرځاى، سندرغاړى ور بولي :

د اسلامي تصوف او عرفان په ځينو ډلو كي د سپېڅلي قرآن په آيتو د سماع نه كولو په اړه، د دغو دلايلويادونه كيږي :

- د قرآن كريم ټول آيتونه د اروېدونكو له حالت سره سمون  نه لري؛ ځكه په ځينو آتيو كي د طلاق، ميراث، حدودو او داسي نورو په څېر مسألي بيان سوي دي، چي د ميني اور نه تازه كيي؛ مګر داچي څوک د ميني او عشق داسي مقام ته رسېدلئ يي، چي له هر شي څخه سماع واروي .

- هر څه د ډېر ويلو له امله خپله اغېزه له لاسه وركيي . قرآن شريف هم په پيل كي ډېره اغېزه لري؛ خو كله چي ډېر تكرار سي، اغېزه يي كميږي .  د دې ستونزي  د له منځه وړلو دپاره كېداى سى، نوي نوي سندري او تراني و ويلي سي؛ خو سپېڅلى قرآن هره پلا په نوې نوې  بڼه نسي لوستل كېداى . كله چي به عربانو د رسول عليه السلام  په زمانه كي اول ځل  د قرآن آيتونه  اروېدل، د هغو د روحاني اغېزي له امله به يي ژړل؛ او په وجود كي بې( به يي) د سپېڅلي ميني او اخلاص ځانګړى حالت پيدا كېدئ . حضرت ابوبكر صديق ( رض)به هغوى ته  ويل : « كناكما كنتم تم قست قلوبنا » ياني موږ هم ستاسي په شان وو؛ خو اوس مو زړونه سخت سوه .

- موزون كلام پر زړو ډېره اغېزه ښندي . له دي كبله ډېر لږ  په قرآن سماع كيږي؛ ځكه  چي قرآن له اواز سره نسي ګډېدلاى  .  په شعر كي تصرف او لاسوهنه روا ده؛ خو په قرآن مجيدكي هيڅ ډول تصرف نسي كېداى .

- د ږغ  د ډېري اغېزمنتيا  دپاره د شپېلى، ډول، طبلي، درېي او د موسيقى د نورو آلاتوله خوږو ږغوڅخه مرسته اخيستل كيږي . د موسيقى د آلاتو ږغول د ساتېري او شوخى كار دئ؛ حال دا چي قرآن د خداى تعالى د سپېڅلي كلام په توګه، په هيڅ ډول د شوخى، ساتېري او مسخرو وړ نه دئ .

- هر څوک ځانګړى  روحي او عاطفي حالت لري؛ له دي اسيته هيله لري، چي له خپل حال  او ځرنګوالي سره سم  بيتونه يا شعرونه  واروي . كولاى سي د شاعرانو په شعرو كي د خپل ذوق او خوښى له مخي څه نا څه غوره كي؛خو څوک له قرآن كريم سره هيڅكله داسي چلند نسي كولاى۲۸ .

ب) وجد:

وَجْد( د واو په زْوَر او د جيم په سكون) په لغت كي خوښى، خوشالى،  شور، جذبې،  ولولې، مينې، مين كېدو او د ارمان ترلاسه كولو ته وايي۲۹؛ اما وَجْد په عرفاني اصطلاح، هغه حالت ته ويل كيږي، چي عرفاني سالک د باطني ميني او مستى تر اغېزي لاندي ونڅا يا لاسوا و پښو ښورولو ته لاس اچيي ۳۰ .

د سماع او وجد مقامونه :

د صوفيانو او عارفانو په اند، سماع او وجد خپل مقامونه او درجي لري :

- پوهه :  په سماع كي بايد پوازي د دين فكر او د حق تعالى مينه پر زړه واكمنه يي، چي هغه په خپله هم دوې درجي لري :

لومړى درجه، چي د مبتديانو او مريدانو درجه ده . په دې پړاوكي مبتديانو او مريدانو ته  بېلابېل حالتونه پېښيږي . له دي امله بايد د هغوى په حضور كي داسي خبري و نسي، چي په هغو كي قبول او رد، وصل او بېلتون، نيژدې والي او ليري والي، فراق او وصال، اوميد او نااميدي يا داسي نورحالتونه نغښتي يي .كه په مبتدي او مريد كي عرفاني عقيده پياوړې نه يي، سماع او وجد داسي سوچونه ورته راولي، چي د كوېر پر لور يي

د ښوییدو سَوَب ګرځي . له همدې وجې دئ، چي د ستر عرفاني مخکښ، ابوالحسن هجویري، په عقیده باید مبتدیان و سماع ته پرېنښول سي؛ ځکه داسي غونډي هغوی ته ستر خطرونه لري . . . دده په نظر، ځیني بې لاري د فاسقانو سماع ته ورځي؛ اوبیا په تېروتني سره ادعا کیي، چي د حق و سماع ته ورځو . دوهمه درجه د هغو کسانو ده، چي د فنأ او نېستی مقام ته رسېدلي یي . کله چي دې ډول عارفانو ته سماع ور ورسیږي، د نېستی او یووالي حالت غلبه پر کیي؛ او ځان وجهان ګرده هېریږي۳۱ .

- وجد : وجد دوهم مقام دئ؛ او دا هغه حالت دئ، چي له پوهي پیدا کیږي؛ او ډېر ډولونه لري . زیاتره دوه ډوله دئ : د حال وجد او د مکاشفي وجد . د حال وجد؛ لکه څنګه چي یي له نامه څخه یي ښکاري، هغه وجد دئ چي په وجود کي د ښېري، غم، غوښتني، شوق، میني او داسي نورو صفتو په څېر مستي او ولولې رامنځه ته کیي . د مکاشفي په وجد کي د صوفیانو او عارفانو له زړو څخه د پټواسرارو پردې پورته کیږي۳۲ . د اسلامي تصوف او عرفان علمبردار- مصری ذوالنون وایي : « وجد هغه حالت دئ، چي له خدای سره د ډېري میني او اخلاص له مخي پیدا کیږي . لکه څنګه چي د قرآن کریم د رعد د سوری د اته ویشتم آیت ( ۱۳ : ۲۸) په یوه برخه ( الا بذکر الله تطمئن القلوب) او د زمر د سوری د درویشتم آیت ( ۳۹ : ۲۳) په یوه برخه ( تقشعر منه جلود الذین یخشون ربهم ثم تلین جلودهم و قلوبم الی ذکر الله) کي راغلي دي . ځینو وجد د پردې لیري کېدل؛ د محبوب لیدل؛ د غیب کتل؛ او د مقصود موندل بللي دي .

په قادریه طریقه کي وجد او نڅا جال نه ده . ابو سعید ابو الخیر، ابوالحسن علي هجویري ، خواجه معین الدین چشتي او ځینو نورو پخوانیو او وروستییو مشایخو وجد اونڅا جایز ګڼلي ده . د اسلامي تصوف او عرفان ځیني شېخان؛ لکه مصری ذوالنون، ابو سعید خراز، ابوالحسن نوري او ابوبکر شبلي د میني او وجد په حالت کي له دونیا څخه تللي دي۳۳ .

په روښاني طریقت کي هم سماع ته خورا په لوړه سترګه کتل سوي دي . د دې عرفاني لارې متفکر مشر - پیر روښان اورمړ ( ۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق) په خپله هم له سماع سره ډېره مینه لرله۳۴ . بایزید روښان ، د سماع او اواز په باب خورا ژور ي او ارزښتناکي نظریي وړاندي کړي دي . هغه سماع او سرود د انساني میني مرستندوی بولي : « المزامیر کان نصرا حب الانسان »

پیر روښان د اواز او ترانې د حُرمت، اباحت، حلال والي او پاکی خبري بېلیي : « صوت المزامیر حرام علی اهل الدنیا و مباح علی اهل الآخرة و حلال علی العارف الواجد و الطاهر علی العارف السامع » یاني سرود او اواز پر دونیا پالونکو حرام، پرآخرت پالونکو روا، واجد عارف ته حلال او سامع عارف ( هغه عارف، چي د پیر روښان د عرفاني ډکتورینو له مخي، د قربت مقام ته رسېدلئ یي) ته پاک او سپېځلئ دئ . پیر روښان، اواز او سرود دونیا پالونکو ته بدعت ؛ خو هغه اروېدونکي یا سامع عارف ته روا ګني، چي د هر اواز په تسبي ( تسبیح) پوهیږي؛ او په هر ږغ کي یوازي د یوه ذات د ثنا او صفت ترانې اروي . د ده بیان دئ، چي وایي : « المزامیر بدعة علی اهل الدنیا و مباح علی السامع . » پیر روښان په یوه بل بیان کي د اواز د زیان او ګټي په تړاو داسي وایي : « المزامیر خسران علی اهل الدنیا و مضرة علی اهل البغی و نافع علی العارف و موافق مع السماع » یاني مزامیر او سماع د دونیا پالونکي ته زیان، بې لارې او سرغړاند کس ته ضررناک؛ خو عارف ته ګټوره او اروېدونکي عارف ( د قربت د مقام څښتن ) ته سمه او برابره ده۳۵ .

د « حالنامې » د روایت له مخي، یوه شپه پیر روښان خوب ولیدئ، چي د څلوېښتو درویشانو یوه ډله یې له مزامیرو- د ساز او اواز له بېلابېلو آلاتو او وسایلو( دریې، رباب ، څلور تاره او داسي نورو) سره کور

ته و رځي؛ او داسي پوښتنه څني کيي : اي بايزيده ! ځيني عالمان وايي، چي ساز ږغول او سماع دواړه حرام دي ، تاسي په دي خبره کي څه واياست ؟ ! بايزيد روښان جواب ورکړ : ما په قدسي حديث کي ليدلي دي، چي د ساز و اروېدل پر دري ډوله دي : حرام، مباح او حلال ( السماع علی ثلاثة انواع : حرام و مباح و حلال) . و روسته يي د سماع هر ډول په داسي ټکو ورته بيان کړ : « و من سمع الصوت عن شئ لمحبة الدنيا سمع حرام و من سمع الصوت عن کل الصوت بمحبة الجنة فقد سمع المباح و من سمع الصوت عن کل الصوت بمحبة الله فقد سمع حلال . » يا ني څوک چي د هر شي اواز د دونيا د ميني دپاره واروي ، داسي اروېدل حرام دي؛ څوک چي د هر شي ږغ د جنت په مينه اروي ، داسی اروېدل روا يا مباح دي؛ او څوک چي هر ږغ د خدايي ميني په خاطر اروي، داسي اروېدل حلال دي . وروسته درويشانو له پير روښان څخه د سازو ږغولو اجازه وغوښته . پير روښان په دي شرط اجازه ورکړه، چي د سازو ږغول يوازي د خدايي ميني دپاره يي . درويشانو خپل سازونه و ږغول او سماع يي وکړه ؛ مگر اواز يي نه پېژندئ؛ نه پوهېده، چي سازونه څه وايي؛ او په سازو کي څوک خبري کيي . پير روښان، داسي درويشان د قرآن کريم د بقرې د سورت د اتلسم آيت ( ۲: ۱۸) له حُکم سره سم کاڼه، گونگي او ړانده و بلل۳۶ .

مخلص په خپل عرفاني او تاريخي اثر « حالنامه » کي د پير روښان د روحاني وجد او نڅاکيسه هم راوړي ده . دی ليکي، چي بايزيد روښان يوه ورځ د همزولو او ځوانانو په هغه بانداركي د لېونو په څېر خوشالي او نڅا وکړه، چي پلار او نور خپلوان يي هم ناست وه . په داسي حال کي، چي پلار يي د اواز او گڈا سخت مخالف ؤ؛ خو بايزيد روښان تر ډېرو کوښښو وروسته، د پلار د اجازي په تر لاسه کولو سره، د رسول الله ( ص) د دي مبارک حديث : « لا يکمل ايمان احد حتی يظن الناس انه مجنون۳۷ » په پيروی د ځان داسي انځور وړاندي کړ، چي د ديندارۍ او روحانيت هيڅ نښه نښانه پکښي نه وه۳۸.

زموږ حاذق او سترگه ور عارف، علي محمد مخلص، هم په خپل پښتو د يوان کي د سماع ارزښتناکه مسأله په خورا لوړو عرفاني او فلسفي نظريو سره څېړلي ده . په يوه غزله کي د هغه اسماني ږغ ښکلا او بې مثلي بيانيي، چي په هر اواز کي په څو ډوله ازانگي کيي :

خوش آواز يي د آسمان لويــه بربـــطه!
هر اشيأ ور باندي تار گورم حطـــطه
لوی آسمان دئ احاطه عالَم په ميان کښي
دا محيط فلک د هر اشيأ محيطه

***

ښه آواز د شاه رويبار دئ په سرود کښي
دل زنده عاشق له پښو پـــايو بې راگه

مخلص، د قرآني کيسي پربنسټ، د حضرت داوود ( ع ) د ښه آواز معجزه داسي انځوريي :

د آواز صفت به وکښم ښه اواز دئ دلفريبـــه
آهو ځان کښېږدي و تېغ ته د احسن اصوات له زېبـه
دداؤد له ښه آوازه چي آغاز يي کړئ له نيـــازه
غرونو، ونو به جُنبش که، حيوان ډېر مره بې حسيبـــه

مخلص، په خپل عرفاني نړۍ لید کې هر اواز او هره نغمه د بې ساري بحر کرشمه ګڼي . د چا په غوږو کې، چې د دې بې مثله بحر خوږو او هستی بخښوونکو نغمو ځای نیولۍ یې، هغه د موجوداتو په هر ږغ کې یوازې د خپل محبوب او معبود اواز اروي . د همدې عرفاني نظریې پر بنسټ، مخلص یوازې هغه چا ته سماع جایزه بولي، چې د هرشي له ږغه د هو تسبې واروي . د روښاني طریقت د اصولو او ډکتورینو له مخې، دانوپه حقیقت کې د قربت هغه لوړ عرفاني مقام دئ، چې عارف د زړه په غوږو د بې ساري بحرهر اواز اروي؛ او د هر ږغ په تسبو یې سد رسیږي . د لته د دې عرفاني مسألې په بیان او شننه کې د مخلص د فکري ژورتیا او نازک خیالی ځیني بولګې وړاندې کوو :

چې په غوږ یې د بې مثله دریا غږ دئ
په معنا۳۹ کښې دا سامع تښتن د غوږ دئ
قریبان د حق آواز آروي له هر څــه
کر بعید نن نا اشنا د شاه په غـږ دئ

***

هر آواز د هو تسبیح وایي مخلصـه!
چې د زړه فهم پرې نه لري اتــروش دئ
که په غوږ کښې دې ځای ونیسي د یار غږ
نور به نه آروې په ملک کښې د اغیار غږ
که شهباز پر زېر و بم د تــار وبلوسې!
تر هر تار پورې ظاهر شي د دلــدار غږ
که سبب د تار شهباز دې منــظور نه وي
بې واسطه به مدام آروې د نګـار غږ

***

چې د هر خیز له آوازه تسبیح آروي
د سرود سماع پرده باندې مباح شي

مخلص، هغه چا ته د ناپوه او جاهل په سترګه ګوري، چې ښکلې او روح پروره اوازونه د شپېلۍ، رباب، چنګ، بربط او داسې نورو مزامیروزېړنده بولي . د ده په اند، ټولې ښکلې نغمې او حسینې ترانې، په واقعیت کې د هغه بې مثله اسماني اواز څپې دي، چې د کایناتو په ګوټ ګوټ کې په بېلابېلو بڼو او ډولو ازانګې کیږي . دا زړه وړونکې ږغونه کله د تمبور ( تنبور ) او رباب، کله د شپېلۍ او سورنا، کله د باد له سوږهار ، کله د اوبو له شورهار، کله د مرغانو او نورو حیواناتو له اوازو څخه زموږ تر غوږو را رسیږي . د قربت مقام ته رسېدلۍ عارف په هر اواز کې یوازې د خپل یار ږغ اروي اوبس . له دې امله مجبور نه دئ، چې د ښکلو او مستو اوازو دپاره یوازې ساز او سرود ته مخه کړي . د مخلص په عارفانه کلام کې د دې نظرېې بیان داسې راغلۍ دئ :

چې نایي یې و نظر ته منظور نــه وي
له مزماره به ګڼي نادان حمار غږ
نایي یو شپېلۍ یې ډېرې دي مخلصه!
تر هر نې کاندي ښکاره په خو اطوار غږ

***

دیوه بحـــره غوتي يي ځرګنــديږي

له یوه بحره آواز په ځو انګاز شـــي

د زړه غوږ که دي شنوا شي و به واروې!

په هر نی کښي د یوه نايي آواز شـــي

چي آواز له غیر نه اروي په غـــوږو

هغه کس ګورم مین په سور وساز شـــي

چي یي فهم په تسبیح د هـر آ واز وي

و عارف ته هر اواز بانګ نماز شــــي

په یوه بله ښایسته غزله کي بیاهم د همدې عرفاني او فلسفي نظريې په ځيرنه کي وايي :

بعیدان ګني آواز له تار وخیـــــــژي

قريبان له بي مثلیيه آروي طـيطه

آواز کُل د بي مثلى لــه بحره پاځي

که سبب يي شه د ځيز جنبش ربطه

په دا سِر به مُقَرب سامـــــع پوهيږي

چي نظر يـــــي لـــــه سببه دئ فرطه

په بله غزله کي د اواز له ستر نعمت څخه د غافلو او کنو د بي برخي توب مسألي ته داسي کتنه کيي :

کر بعید د ښه اواز له قدره څـــه زده

د اواز په لوی نعمت دي سامعـان خوښ

مخلص، د یار د دیدن په هیله سالکان د سماع او خوښی هوس ته وربولي :

نن د یار په دیدن خوښ، خوشحال شه ناڅه!

له هوسه کړه سماع، قـــوال شه ناڅه!

ته خیال د بل ځیز مه پرېږده په زړه کښـــي

که عاشق يي درست د یار په خیال شه نـــاڅه !

***

چي فارغ شي د دُنیا له کاروباره

د دُنیا اهل مشغول په لهو، ناچ شي

مخلص، په یوه غزله کي هغه ساز او اواز ته د لهو و لعب په سترګه ګوري، چي د حق تعالی له ذکر وفکره بي خبره دونیاوال يي یوازي د سیل او ساتيري په مقصداروي یا ګوري . له دې جهته يي په « حالنامه » کي د ساز او اواز په باب د عرفاني شيخانو دا وینا کښلي ده : « ای ګرانه! لویانو او مشرانو ويلي دي : هر څوک چي د خدای دپاره سازونه وږغيي او سندري و وايي، تر هغه چابښه دئ، چي بی الله تعالی قرآن لولي .

من آن نیم که حلال و حرام از هم نشناسم

شراب باتو حلال است و آب بی تو حرام۴۰ »

انسان باید په هر کار، په تیره بیا په عبادتو کي یوازي او یوازي د حق تعالی رضا او خوښي په پام کي وساتي؛ زړه د ماسوای الله له هر ډول اغېزې وژغوري،که نه نو د شرک په داسي لوګونا به اخته يي، چي د بخښني دروازې يي تړلي دي .

زموږ په عصر کي ساز، اواز، نڅا او داسي نور ظریف هونرونه ، د بشري ټولنو له هر ډول ديني او مذهبي بنديزو، فکري مخالفتو او بېلابېلو عرفاني شرطو سره سره، د ژوندانه له انکار نه منونکو واقعيتو او نه بېلېدونکو اړتياوو څخه ګڼل کيږي . څوک چي د انسان، حيوان او حتا نبات پر ژوند د موسيقی له رغنده او ګټوري اغېزې څخه سترګي پټيي، په حقيقت کي په دوو ګوتو د لمر پټولو ناکامه هڅه کيي، چي بی شرمندګی او ناکامی بله هيڅ نتيجه نه لري . بی شکه په دې خبره کي هيڅ ويل نسته، چي موسيقي بايد عرفاني او انساني تومنه ولري؛ او له انسان روح سره د خوشالی، تمرکز او حقيقت موندني په لار کي مرسته وکي .

د نورو مالوماتو دپاره وګورئ : قربت، ذکر او فکر .

**لمنليکونه**

١ عميد ٢ : ١۴۵٧ ؛ Wehr 430 .

٢ حاکمی ١ .

٣ حاکمی٣۶ .

۴ حاکمی ۶ – ٧.

۵ حاکمی ۵ .

۶ حاکمی۴ .

٧ شجيعی ٣١٨ .

٨ حاکمی ٢۴.

٩ حاکمی ١٧.

١٠ حاکمی ١١.

١١ دا را شکوه، سکينة الاولياء ٧١ .

١٢ حاکمی ١۶.

١٣ حاکمی٣٧ - ٣٨ .

١۴ امام غزالی، کيميای سعادت ٣٨١- ٣٨٨ .

١۵ جامی ٧٠١- ٧٠٣ .

١۶ بلخی، دورۀ کامل مثنوی معنوی ١ .

١٧ حاکمی صفحۀ دوم مقدمه و صفحۀ ١٢٧ متن .

١٨ حاکمی ۵ .

١٩ حاکمی ٨ .

٢٠ حاکمی صفحۀ دوم مقدمه .

٢١ نيرومند محقق ۵۶ .

٢٢ نسفی، انسان الکامل ١٢۶ - ١٢٧.

۲۳ حاکمی ۳۳ .

24 Imām Bukhāri 7: 163.

۲۵ حاکمی ۳۷

۲۶ حاکمی ۱۱ ؛ هجویری ۵۴۱.

۲۷ د ارا شکوه، سکینة الاولیاء ۷۱ .

۲۸ حاکمی ۲۹.

۲۹ عمید۳ : ۲۴۵۰؛ . Wehr 1050

۳۰ دارا شکوه، سکینة الاولیاء ۷۱ .

۳۱ حاکمی۲۵.

۳۲ حاکمی ۲۶.

۳۳ دا را شکوه، سکینة الاولیاء ۷۱ .

34 Hussan Zia Khan 20 .

۳۵ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۶۷ .

۳۶ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۱۳۱- ۱۳۳.

۳۷ ژباړه : د چا ایمان تر هغه مهاله نه بشپړیږي، چي خلگ د لېوني گومان پر و نه کي .

۳۸ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۱۵ -۱۶.

۳۹ اصل : معنی .

۴۰ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۴۱۱ .

پاته لري